*کابل – افغانستان*

*د ۱۳۸۸ هـ ش کال د جدی ۱۸ ـمه*
*او د ۲۰۱۰ م کال د جنوری ۸ـ مه نېټه*

# دریمي پراخې سلاکارۍ غونډې ته
# د حمل د میاشتې د غونډې له خوا
# د ټاکل شوی کاری ټیم رپوټ

**زموږ په ګران هیواد افغانستان کې نن تر ځلوېښتو زیات خارجی هیوادونه پوځي حضور لری او تر اتیا دولتونو ډیر په فعاله توګه د بشری مرستو او په نورو غیر نظامی ډګرونو کې په مختلفو څانګو او سیمو کې په کار او فعالیت لګیا دی . په نتیجه کې یې زموږ هیواد د نړی د رنګارنګ دولتونو اوجوړښتونو د ملی او ګروپی ګټو د ټکر په غوره میدان اوښتئ او د نړۍ همدا جغرافیایی ټوټه د مختلفو کلتورونو، ایدیولوژیو، دینو، مذهبونو او ارزښتونو د رقابت او کشمکش په ستیج بدله شوی ده. که له یوې خوا زموږ هیواد د نړیوالې ټولنې او مختلفو خارجی هیوادونو د ګټو او سیاستونو تر اغیزې لاندی پروت دی، له بلې خوا په افغانستان کې د یوه او یابل هیواد، سازمان او ډلې چلند، ستراتیژۍ او روشونه بیا متقابلا د نړۍ په نورو برخو کې د دولتونو او سازمانونو د اړیکو په ټاکلو، بریاوو او ماتو کې یو له غوره فکټورونو څخه شمیرل کیږي.**

**د داسې قوی نړیوال پیوستون او د ځواکمنو خارجی هیوادونو او سازمانونو د موجودیت او د هغوی د ملی او ګروپي ګټو تر منځ د سخت او پیچلی رقابت په ډګر کې د افغانستان د ملی ګټو دنظره لویدو او د افغانانو د حقه حقوقو د تر پښو لاندې کیدو امکانات خورا زیات دی. یوازې قوی، قانونی، مسلکی او د ولس له ملاتړه برخمن افغانی دولت او غښتلی سیاسی سازمان او تشکل کولای شی چې د خپل هیواد او افغان ولس ملی ګټې تشخیص، د هغو د ساتلو له پاره علمی او عملی روشونه طرحه او وکارولای شی.**

**د خواشینی ځای دی چې نن افغان ولس له داسې ځواکمن، مشروع او د ولسی ملاتړ لرونکی دولت او یا اپوزیسیونی اغیزمن سیاسی جوړښت څخه بې برخې دی چې د ملت د اکثریت په ملاتړ زموږ ملي ګټې تعریف کړی، د ولس د پراخه کتلو ملاتړ له ځانه سره ولری، د معقول، مدرن او سوله ایز منطق په مټ یې د خارجی دولتونو او سازمانونو سره طرحه او د لنډې، منځنۍ او اوږدی مودې د سنجول شوې ستراتیژی له مخې یې په پرله پسې او دوامداره توګه ننګه وکړای شی.**

**زموږ په هیواد کې د سیاسی ګوندونو، قومی شوراګانو، ټولنیزو سازمانونو او مدنی ټولنو شمیر زیات دی، خو دملی ګټو په دایره کې د هغوی د فعالیتونو ترمنځ د عمل د یووالی او د کړو وړو د هماهنګۍ نشتوالی د هغوی دکار او فعالیت محصله را ټیټه کړی ده. په هیواد کې داسې غښتلی او اغیزمن سراسری ګونداو سیاسی جوړښت نشته چې د هیواد په کچه د هیواد پالو، ملی او ترقی غوښتونکو شخصیتونو، جوړښتونو او سازمانونو فعالیتونه هماهنګ او د ترقی او پرمختګ په لور یې وخوځوی.**

**په ملي کچه د عدالت غوښتونکو وطنپالو او متمدنو ځواکونوسراسری ، لوی او اغیزمن تشکُل د هیواد د ټولو میشتو اتنیکی، ژبنیو، مذهبی، محلی او ټولنیزو ګروپونو د فعال ګډون ، تفاهم او همکارۍ له لارې رامنځ ته کېدای شی. په اوسنیو هیوادنیو، سیمه ایزو او نړیوالو پیچلو شرایطو کې هیڅ سیاسی، ټولنیز ګروپ په ځانګړی توګه د هیواد پروړاندې د پرتو ستونځو د حل توان نه شی تر لاسه کولای. افغانان یوازې هغه وخت کولای شی چې د اوسنیو حالاتو او موجودو چانسونو څخه اعظمی ګټه پورته کړی چې ټول افغانی ملی ظرفیتونه او امکانات منظم او په ښه توګه په کارواچولای شی او د نړیوالو عدالت غوښتونکو،په سوله مینو اودموکراتیکو ځواکونو سره په هماهنګۍ او متقابل تفاهم کې خپل فعالیت تنظیم کړی. د داسې چارو سرته رسول د یوه مدرن، دموکراتیک او د ولسونو په پراخو کتلو کې د نفوذ لرونکی سیاسی سازمان او انسجام موجودیت ته اړتیا لری. داسې اغیزمن او سراسری تشکل بیا یوازې او یوازې د مدرنو دموکراتیکو سازمانی او تشکیلاتی اصولو پر بنسټ منځته راتلای شی.**

داسې سراسری اغیزمن سیاسی تشکُل چې د هیواد د وضعیت د عینی تحلیل پر بنسټ د افغانانو د معنوی ارزښتونو له په نظر کې نیولو سره په جمعی خرد اودموکراتیکو اصولو راجوړ شوی او د ولسونو په منځ کې ځای ولری ،کولای شی چې د اوسنی کاواکې وضعې د سمون له پاره ډاډمن متمدن او دموکراتیک الترناتیف وړاندې کړې او د افغانانو په زړونو کې یوځل بیا د امید تخمونه وشیندی.

د داسې سیاسی الترناتیف د ملا تیر د هغو افغانی روشنفکرانو څخه جوړیدای شی، چې په افغانی ټولنه کې یې د ژوند له سختو شرایطو سره تطابق حاصل کړی وی، په ستونځو او کړاوونو کې له زیارکښانو سره څنګ پر څنګ پاته شوی وی، د هیواد حالات یې له نږدې څارلی وی، د ځان او اولادبرخلیک یې له عامو خلکو سره تړاو ولری، په سختو

ورځو کې له هېواده د تېښتې میل او چانس ونه لری، د ملت د عامو ګټو په وړاندې له شخصی او ګروپي ګټو تیر بدو ته چمتو وی، د افغانستان د تاریخی ، سیاسی او ټولنیزو لاسته راوړنو د ساتلو مینه وال او په دې لارکې له نړیوالو سره د سوله ایز دیالوګ او متمدن دیپلوماتیک چلند توان ولرلای شی.

داسې یو مدرن او پیاوړی سیاسی الترناتیف چې د واحد افغانستان د ساتلو او په هغه کې د سوله ایز ژوندانه د تامینولو په خاطر د یوه او یابل ژبنی، اتنیکی، دینی او محلی ګروپ له تبعیض او امتیاز پرته په هېواد کې د ټولو اوسیدونکو افرادو د مساوی چانسونو، حقوقو او مکلفیتونو طرفداری وکړای شی- په هیواد کې د ټولو میشته ټولنیزو ګروپونو د استاذو په ګډون او فعاله برخه اخیستنه رامنځته کیدای شی. د ژبنیو، قومی او محلی امتیازاتو پر بنا او یا پر ځانګړې توګه د یوې او یابلې سیمه ایزې - اتنیکی ډلی او یا منفردو رهبرانو د اصالت پر اساس د یوه اغیزمن سراسری غښتلی او عدالت غوښتونکی سیاسی دموکراتیک ځواک رامنځته کېدل ناشونی دی.

ډیر افغان وطنپال او سیاسی – اجتماعی فعالین چې ځینې یې نن په دې غونډه کې هم را ټول شوی دی، د ډیرې مودې راهیسې د خپل فکر او باور سره سم د هیواد د پیچلو ستونځو د حل په خاطر د افغانی روشنفکرانو او د هیواد د دموکراتیکو ځواکونو د اتحاد او یووالی له پاره هڅې او هاند کوی. د همدې هڅو او تلاشونو په لړ کې موږ او تاسې د ۱۳۸۷ کال د حوت د میاشتې د غونډې د پریکړو سره سمه د روان کال د حمل په میاشت کې دوهمه لویه مشورتی غونډه جوړه کړه. په دغه غونډه کې موږ یو له بله سره د افغانی ملی او دموکراتیکو وطنپالو ځواکونو د وحدت د ضرورت او د هغو د عملی کولو له پاره د ممکنو، لنډو او مناسبو لارو د لټون په اړه یوله بله سره نظرونه او برداشتونه شریک کړل او په ګډه سره دې پایلې ته ورسیدو چې: « په هېواد کې د ګوندونو شتون له اندازې زیات دی. ولې هغه څه چې نشته اوتشه یې موجوده ده، هغه د یو داسې غښتلي ګوندموجودیت دی چې د خلکو د هوساینې اودهېواد دپرمختګ لپاره د دموکراتیک نظام، ټولنیز عدالت، د اتباعو دحقوقو دتأمین، دمتوازنې بیارغونې، د لوړې له منځه وړلو، د سولې ، ثبات او امنیت ټینګولو پربنسټو د باور پر اساس د ټولنیز_ توکمیز انقطاب او نورو هغو منفی پدیدو د له منځه وړلو لپاره چې د پخوانیو ظالمو او استبدادی رژیمونو بدمرغه میراث دی، صادقانه هاند او هڅې وکړی.». (۱)

د همدې یادې شوې تشې د ډکولو په خاطر د حمل د میاشتې د پراخه سلاکارې غونډې را په دې خوا په هیواد کې د ملی او دموکراتیکو ځواکونو د وحدت له پاره د تفاهم په لار کې د کار او فعالیت لنډ رپوټ ستاسې مخې ته وړاندې کیږی.

## *الف: د حمل د میاشتې د سلاکارې غونډې له خوا د ټاکل شوی کاری کمیسیون فعالیتونه:*

د افغانستان د ملی او دموکراتیک جنبش د فعالینو اود سیاسی تجربه لرونکو ملی شخصیتونو د ۱۳۸۸ کال د حمل د میاشتې په پراخه مشورتی غونډه کې د هیواد په سیاسی ډګر کې د لوی، اغیزمن او سراسری ګوند د تشې د ډکولو له پاره پریکړه وشوه چې د عدالت پاله، ملی اود موکراتیکو ځواکونو د اتحاد په لار کې باید پرله پسې، دوامداره او نه شلیدونکی کارته په حوصله مندۍ او پراخه سینه دوام ورکړل شی. دې هدف ته د رسیدو له پاره یو کاري ټیم چې له پنځلسو نفرو څخه جوړ شوی ؤ، وټاکل شو.

دې کاري ټیم د هغې ورځې څخه تر ننه پورې په نه ستړی کیدونکې توګه دوحدت د چارو په اړوند د سلا او مشورو او اغیزمنو لارو د موندلو او همدا راز د منظم او پرله پسې کار د تر سره کولو په منظور د هرې چهارشنبې په ورځ د ماسپښین له دوو بجو څخه تر شپږو بجو پورې خپلې نوبتی غونډې جوړې کړی دی. له هغې ورځې تر اوسه پورې هیڅکله هم د چهارشنبې د ورځې نوبتی غونډه نه ده قضا شوې. په دې توګه دې کاری ټیم د حمل د پراخه غونډې له جوړیدو څخه را وروسته پوره (۴۰) څلویښت منظمې او نوبتی کاری غونډې کړی دی. که په متوسط ډول یوازې د همدې نوبتی غونډو ګډون کوونکی څلور ساعته وخت د غونډې په بهیر او یونیم ساعت وخت د تلو او راتلو له پاره مصرف کړی وی، نو هر منظم ګډون کوونکي لږ تر لږه (۲۲۰) دوه سوه او شل اجتماعا لازم کاری ساعتونه د همدې هدف له پاره بې له معاش او امتیازه وقف کړی او سربېره پردې یې د کابل په ښار کې د انتقال او ترانسپورت ستونځې او له هغې سره تړلی مصارف او خطرونه پخپله غاړه اخیستی دی.

دا هره غونډه د منظمې اجندا او معین کاری دسپلین په لرلو سره د صمیمیت او دموکراسۍ په فضاکې جوړه شوی ده. په هره کاری غونډه کې د هر ګډون کوونکی دندې ټاکل شوې او په راتلونکو غونډو کې یې راپور وړاندې شوی دی. البته د غونډې ګډون کوونکو یوله بله سره د مساوی حقوقو لرونکو افرادو په حیث ګډون کړی او د متقابل ګذشت، دلیل راوړلو او اقناع له لارې یې پریکړې کړې او په رضامندانه توګه یې دندې ویشلې دی. داسې چې د ټیم د غړو ترمنځ مشر او کشر نشته او یو څوک بل چاته دستور نه شی ورکولای. د غونډې اداره هم په مختلفو ورځو کې بیل، بیل کسان په غاړه اخلی.

د حمل د میاشتې د سلاکارۍ پراخې غونډې له خوا د ټاکل شوی کاری ټیم نوبتی غونډې آزادی دی او کولای شی چې نور مینه وال او د ټاکلی کاری ټیم څخه د باندې کسان هم پکې ګډون وکړی او د خپل نظر په وړاندې کولو سره د غونډې محتوا غنی او د وحدت پروسه ګړندی کړی.

د اونییزو نوبتی غونډو سربیره ټاکل شوی کاری ټیم د اړتیا په وخت کې ځینې فوق العاده غونډې هم نیولی دی. نورې شوراګانې او تفاهمی غونډې یې رابللې او په هغو کې یې هم فعال ګډون کړی دی. په ځینو خاصو حالاتو کې د ځینو چارو د اجرا له پاره یا لوی مجلسونه نیول شوی او یا هم درې او یا څلور نفری واړه مؤظف کمیسیونونه کارته ګمارل شوی دی. دټیم د غړو او د ملی او دموکراتیکو ځواکونو د وحدت د مینه والو انفرادی لیدنې کتنې او منډې تړرې هم د یام وړ دی. دا خو څرګنده ده چې دا ټول کارونه د هیڅ ډول امتیاز او معاش پرته په رضامندانه ډول د هر چا د وجدان په حکم په مینه او علاقه سره سرته رسیدلی. داسې چې دې کارې ټیم د کمو امکاناتو او زیاتو مشکلاتو په لرلو سره د ملی او دموکراتیکو ځواکونو د وحدت په لارکې د خپل توان سره سم نه ستړی کیدونکی، دوامداره او منظم کارته دوام ورکړی دی.

مؤظف کاری ټیم د حمل د میاشتې د پراخه سلاکارۍ غونډې اسناد (د وحدت په اړه د مختلفو ګوندونو د نظرونو رپوټ، فراخوان برای ایجاد یک حزب بزرګ و تاثیر ګذار بر روند های سیاسی کشور و اتحاد همه نیروهای ملی و دموکراتیک او بلنلیک) په پراخه پیمانه په مرکز او ولایتونو کې خپاره کړی او د یو لړ سازمانونو دفترونو ته یې هم سپارلی دی. څرنګه چې د حمل د میاشتې په غونډه کې «د وحدت په اړه د مختلفو ګوندونو د نظرونو رپوټ» کې د وحدت په اړه د ملی ګوند، ملی یووالی او سولې غورځنګ نظرونه په تفصیل سره لیکل شوی ؤ، دا رپوټ د دوی د معلوماتو او ارزونې په منظور د هغوی هر یوه دفتر ته ورسپارل شو.

د حمل د میاشتې د پراخه سلاکاری غونډې له خوا ټاکل شوی کاری ټیم په ولایتونو کې د وحدت له پاره د تفاهم د شوراګانو د جوړولو، د ملی او دموکراتیکو ځواکونو د وحدت د پروسې د چټکولو او همدا راز په ولایاتو او ولسوالیو کې میشتو ملګرو د سلا او مشورو د اخیستلو له پاره پریکړه وکړه چې د ولایتونو په لور کاری سفرونه تنظیم کړی. په دې لړ کې تر اوسه پورې د ننګرهار، بغلان، هرات او مزار ولایتونو ته رسمی کاری سفرونه شوی، د هغې ځای له ولایتی شوراګانو او نورو ملګرو سره یې د وحدت د پروسې د چټکتیا او دکار د مناسبو او منلو وړ میتودونو د موندلو او عملی کولو په خاطر یې د سلا او مشورو له پاره لیدنې کتنې تنظیم کړې، چې ډیرې مثبتې پایلې یې هم لرلی دی.

د کار مؤظف ټیم په کابل کې د وحدت د پروسې د چټکتیا له پاره په پل چرخې، احمدشاه بابا مېنه، پکتیاکوټ، نوې کارته، قرغه، خیرخانه او مکروریونونو کې اوه محلی شورا ګانی ایجاد کړی چې د هغو د بهبود او استحکام له پاره به نور هم کار دوام ومومی.

د یادونې وړ ده چې د قوس د میاشتې په پنځلسمه نېټه د ځینو ملګرو اوپه خاصه توګه د ننګرهار د ولایتی شورا په وړاندیز د ننني پراخه مشورتی غونډې د تابیا د نیولو په خاطر د موظف کاری ټیم له خوا یوه پراخه تدارکاتې غونډه جوړه شوه، چې د موظف کاری ټیم غړی، د ننګرهار او وردګو د ولایت د ولایتی شوراګانو او همداراز د کابل د اوو محلی شوراګانو استازی ورته رابلل شوی ؤ.

مؤظف کاری ټیم د ملی او دموکراتیکو ځواکونو د یووالی له پاره د تفاهم او متقابل باور کار د هیواد دملی ، عدالت غوښتونکی او دموکراتیک جنبش په منځ کې هم په عمودی او هم په افقی سطحه کې پلان کړی او پرمخ بوولی دی. داسې چې له یوې خوایی د ملی او دموکراتیکو جوړښتونو، سازمانونو او کړیو له رهبری ارګانونو سره تماسونه نیولی او هغوی یې اتفاق او وحدت ته رابللی او په عین وخت کې یې له بلې خوا د منفردو ملی او دموکراسی پلوه شخصیتونو او د سازمانونو د غړو ترمنځ د وحدت او اتفاق اړتیا تشریح کړی او هغوی یې په دې اړوند خپلو ملی او ټولنیزو دندو ته متوجه کړی او د وحدت په پروسه کې یې فعالې برخې اخیستنې ته تشویق کړی دی.

## ب: له سازمانونو او جوړښتونو سره کار او اړیکې:-

د حمل د لویې مشورتی غونډې لخوا ټاکل شوی کاری ټیم د هغو ملی او وطنپالوحلقو او سازمانونو له رهبری ارګانونو او اغیزمنو شخصیتونو سره چې له فکری، سیاسی او اجتماعی لحاظه ډیر شریک مرامی ټکی لری، مکرر تماسونه نیولی او له هغوی سره یې د ملی منافعو د حفاظت په خاطر د وحدت په اړتیاخبرې کړی او د مدرنو دموکراتیکو اصولوپراساس یې عملی وحدت ته رابللی دی، چې د ځینو لنډ راپور به دلته وړاندې شی.

### ۱ ـ د ملی ګوند له رهبری سره اړیکی او پایلې یې:

د ملی او وطنپالو جوړښتونو سره د لیدنو کتنو په لړ کې مو ***د ملی ګوند*** له رهبرئ سره تماس ونیو. ددې ګوند رهبرئ لکه څنګه چې د حمل د میاشتې د مشورتي غونډې ترمخه یې هم زموږ له پلاوی سره په لیدنه کتنه کې د وحدت په ضرورت ټینګار کړی او په شفاهی توګه یې خپل عام او تام چمتو والې څرګند کړی ؤ، د حمل د میاشتې د مشورتې غونډې کار او وړاندیزونه یې هم بې له کوم قید او شرطه په پوره ډول تائید کړی دی. د افغانستان ملی ګوند د یوه

وطنپال جوړښت په حيث موږ ته په ليکلي توګه  د ملی او دموکراتیکو قوتونو د وحدت په اړه خپل دريځ په روښانه او ليکلي توګه را استولی او په هغو کې يې  داسې ليکلی دی:

اقتباس:

((د سلاکاري غونډې درنو ګډون کوونکو او تنظیم کوونکو!

تر هرڅه لومړئ د یوه ملی، سراسری ګوند د جوړولو په لور ستاسې هلې ځلې د قدر وړ دی او موږ يې د زړه له کومې ستاينه کوو.

د افغانستان ملی ګوند مشری په دې باورده چې په دې نازکو او حساسو شرایطو کې هیڅ یو کوچنی، تیت او پرک ځواک نه شی کولای چې د ملی ګټو د لاس ته راوړلو جوګه شی او د دارنګه هلو ځلو پايلې به بې اغيزې وی. نو ځکه یو ځل بیا ستاسې په خبرتیا رسوو چې د ملی ګوند رهبری ستاسو د رالیږل شوی هیئت سره په لیدنه کتنه کې د دموکراتیکو اصولو پربنسټ د مخکنی قید او شرط پرته د یووالی له پاره خپل تیاری اعلان کړی ؤ  او د یووالی په اړوند زموږ د ملی ګوند د دویمې کنګرې پیام هم ددې له پاره چې ستاسې په رابلل شوې پراخه غونډه کې ولوستل شی، ستاسې په اختیار کې درکړل شوی ؤ، خو په تاسف سره چې بیا ستاسې په غونډه کې ونه لوستل شو.

په هر حال څرنګه چې وخت په چټکی سره مخ په تیریدو دی او په هیواد کې سیاسی او ټولنيزې پیښې د هرې ورځې په تیریدو سره چټک بدلون مومی او نوی کیږی. د ساری په توګه (د ولسمشری او ولایتی شوراګانو ټاکنې...) را نږدې کېدونکی دی. نوموړی شرایط ټول هیواد پال، مترقی او دموکراتیک ځواکونه دې ته اړباسی،  تر څو پخپلو منځو کې سره یوموټی او ددې جګړې ځپلی خاورې د خدمت له پاره تیار شی. نو ځکه د افغانستان ملی ګوند ملګری د ټولو سوله غوښتونکو، مترقی، ملی او دموکراتو ځواکونو، ګوندونو، شخصیتونو او په ځانګړې توګه ستاسو همفکرو او هم سنګرو ملګرو څخه دا هیله لری، او وړاندیز کوی تر څو د وخت د ضایع کولو پرته د لوی سرتاسری ګوند د جوړولو له پاره اوچت، زړور او ګټور ګامونه واخلی.

د افغانستان ملی ګوند د پورته یاد شوو ملګرو سره د قید او شرط پرته د دموکراتیکو اصولو پربنسټ هر ډول تشکیلاتی یووالی ته تیار او د عمل له پاره سترګې په لار دی.))

په دې توګه د ملی ګوند رهبری په خورا وضاحت سره د دموکراتیکو اصولو پراساس د وحدت پروسه تائید کړی او خپل بې قید او شرطه حمایت یې ترې څرګند کړی دی، چې د هیواد په کچه دوحدت د پروسې په اړه دا یوه بې ساری او لویه لاسته راوړنه بللای شو. اوس ددې وخت را رسیدلی دی چې په عمل کې د وحدت د پروسې د پراختیا او چټکتیا له پاره ګډې لارې ولټول شی او عملی ګامونه پورته شی.

## ۲ - د ملی یووالی ګوند سره تماسونه او پایلې:

د حمل د میاشتې د پراخه سلاکاری غونډې له خوا ټاکل شوی  کاری ټیم د وطنپالو ملی او دموکراتیکو سازمانونو سره د تماس په لړ کې د افغانستان  ملی یووالی ګوند سره هم تماسونه نیولی، د حمل د میاشتې د غونډې ګډون کوونکو ته د وړاندې شوی «د وحدت په اړه د مختلفو ګوندونو دنظرونو رپوټ »، د غونډې له خوا تصویب شوی «بلنلیک» او نور سندونه يې ورته رسولی دی.

هیره د نه وی چې  د حمل د میاشتې په اتمه نېټه (د دوهمې پراخه سلاکارې غونډې ترمخ) زموږ له پلاوی سره د ملی یووالی ګوند  رهبرئ په لیدنه کتنه کې د ملی او دموکراتیکو قوتونو په وحدت  ټینګار کاوه او ویې ویل چې «وحدت هغه عینی ضرورت دی چې هیڅوک ورڅخه انکار نه شی کولای. .. موږ سل په سلو کې وحدت او یووالی ته ضرورت لرو... موږ ستاسې له نظره سره سل په سلو کې موافق یو او یو فیصد مخالفت هم ور سره نه لرو... په ملی یووالی کې دموکراسی حاکمه ده او ټولې پریکړې په مشوره او جمعی ډول سره کوی. سره له دې چې زموږ په غونډه کې د ملی یووالی ګوند مشر (ښاغلی جلیلی صاحب) شرکت نه لری، خو زموږ رهبری د دموکراسئ په فضا کې د وحدت په هکله پریکړه کولای شی او د ګوند مشر هم ورپکې څه نه وایی. موږ تاسې ته ډاډ درکوو چې موږ په ټینګه د وحدت طرفدار یو.»

د حمل د میاشتې د پراخې سلاکارې غونډې وروسته هم زموږ د کاری ټیم پلاوی د جوزا دمیاشتې په ۲۴- مه نېټه د ملی یووالی ګوند له رهبرئ سره مفصله لیدنه کتنه درلوده. په دې لیدنه کې د ملی یووالی ګوند مشر  ښاغلی عبدالرشید جلیلی د وحدت پر ځای په لومړی ګام کې د جبهې د جوړولو طرحه وړاندې کړه او  ویې ویل چې:

 ((موږ له اولې ورځې دټولو هغو کسانو سره چې د نظر اساسی ټکی مو ورسره شریک دی، د یوه حزب جوړولو ته چمتو یو، او له هغوی سره چې څه تفاوتونه موجود وی، نو به ورسره د یوځای کارکولو لارې لټوو.   موږ سره له دې

چې اساسي ټکو کې اختلاف نه لرو، خو بیا هم یو له بله څخه لرې پاته شوي یو. په دې خاطر به ښه وای، که موږ د جبهې په نامه سره یوځای شوي وای، مرکزي ګډه شورا مو جوړه کړې وای، یوځایی غونډې به مو کولای او د وحدت له پاره به روحیه آماده شوي وای. موږ به اوس له ټولو ملګرو سره په خوښه وحدت ته لاره وباسو، نوم به یې جبهه کړو، خو ملګري به ورپکې یوځای شي او بیا به وحدت ته چمتو شو.

که چیرې د جبهې په شکل دغه ډلې راټولې شي، حتما به یووالی ته رسیږي. مرکزي دفتر او شورا به ورته جوړه کړو، د ملګرو راشه درشه به رواج شي، سوءتفاهمات به رفع شي او په کم وخت کې به سره یوځای شي. جبهه زر جوړیږي، علني تبلیغ یې کولای شو، په جبهه کې ښیګڼې موجودې دي، خو په دې شرط چې تش په نامه پاته نه شي.خبرې روښانه دي، هدف یودی ، ارمانونه مشترک دي، دلته دقیق مهارت په کار دی.

تاسي ملګرو د وحدت خورا ښه کار شروع کړی، دا کار زموږ هم دی. بې له وحدته زموږ کامیابی او د ټولنې جوړیدل ناممکن دي. هر شئ چې زر تودیږي، هغه زر سړیږي. موږ باید داسې وحدت ونه کړو چې بیرته سره بیل شو. د جبهې له لارې په حوصله او پراخ فکر د وحدت له پاره یو منلي میکانیسم را جوړولای شو. راځی داسې شرایط برابر کړو چې مشران په وحدت کې اول باید راکش کړل شي.))

البته زموږ د کاري ټیم پلاوی په داسې حال کې چې د جبهې پر ځای د دموکراتیک وحدت په موضوع ټینګار کاوه، په همغه ورځ او بیا وروسته د ملي یووالی ګوند له رهبرۍ څخه وغوښتل چې خپل نظر په لیکلې ډول له موږ او نورو مینه والو سره شریک کړي، خو تر اوسه پورې موږ د وحدت او یا جبهې په اړه دهغوی کوم لیکلی نظرنه دی تر لاسه کړی.

## ۳ – د سولې غورځنګ سره تماسونه او پایلې:

د هیواد دملي او دموکراتیکو سازمانونو سره د تماس په لړ کې مو د پخوانیو لیدنو کتنو په دوام د افغانستان د سولې غورځنګ ګوند سره هم مکررې لیدنې کتنې درلودې. څرنګه چې د سولې غورځنګ مشر ښاغلی جنرال شهنواز تنی ځان د جمهوري ریاست له پاره کاندید کړی ؤ، نو دوی د جمهوري ریاست د انتخاباتي کمپاین سره مشغول ؤ. دملي او دموکراتیکو ځواکونو د اتفاق او وحدت پر مسئله یې د فکر او فعالیت کولو لپاره وخت نه درلود. سره له دې چې زموږ د هیئت لخوا دا موضوع ورته یاده شوې ده، چې که د وحدت پروسه جدي او قوي شي، دا به د هغوی له پاره د جمهوري ریاست په کمپاین کې هم ډیره ګټه ورسوي. خو دوی له موږ څخه داسې خواهش وکړ چې د جمهوري ریاست د انتخاباتو د پایلو تر معلومېدو پورې بې په قرار پریږدو او مزاحمت یې ونکړو. دوی دا خبره هم یاده کړه، چې که څوک وحدت غواړي، خو دادی اوس جنرال صاحب شهنواز تنی ځان جمهوري ریاست ته کاندید کړی او له هغه څخه د په انتخاباتو کې ملاتړ وکړي. دا به د عمل د وحدت ښه چانس او نمونه وي.

له وروستیو تماسوڅخه داسې ښکاري چې د سولې غورځنګ رهبري هم په دې باور ده چې د ملي او دموکراتیکو ځواکونو وحدت یو مفید او ضروري کار دی، ردول یې ناممکن دی او دوی لا ډیر دمخه په دې لاره کې خپلې هڅې کړي او خپل امکانات یې ټول په کار اچولي دي، خو کوم برې یې نه دی ترلاسه کړی. اوس دوی دې نتیجې ته رسیدلي دي چې وحدت ډیر ستونځمن او ان چې ناشوني کاردی. دوی د وحدت له پاره د هلو ځلو په بریالی کیدو باور نه لري. د خپل ګوند(سولې غورځنګ) په موجودیت ټینګار کوي وایي چې که څوک وحدت غواړي دادی د سولې غورځنګ ګوند موجود دی او همدې ګوند کې د ځان تنظیم او مبارزه د وکړي. دسولې غورځنګ د خپل تاسیس له وخته د ډیرو مشترک کور ؤ، چې بیا یو، یو تري نه ولاړ او خپل کور یې پریښود او نور کورګۍ یې جوړګړل.

د جمهوري ریاست د انتخاباتو د پایلو تر معلومېدووروسته د سولې غورځنګ له رهبرۍ سره داسې نظر هم شته، چې که چا په رښتیا له دوی سره وحدت غوښتی، نو بیا به یې د جمهوري ریاست دانتخاباتو په وخت کې له جنرال تنی څخه حمایت کړی ؤ، او د نورو کاندیدانو له پاره به یې کمپاین نه کاوه او حمایت به یې نه تري کاوه.

د یادولو وړ ده چې د سولې غورځنګ رهبرۍ زموږ له پلاوي سره د ۱۳۸۷ کال د حوت د میاشتې د ۲۲-مې نیټې په لیدنه کې ویلي دي چې «د وحدت په مورد له موږ سره ستونځې نشته، تاسې له نورو دوو سره خبرې وکړي، که هغوی رضا شول، زموږ لاس جګ دی!»

په هغه وروستیو تماسونو کې چې د سولې غورځنګ له رهبري کادرونو سره نیول شوي او د وحدت د پروسې په اړه غونډې، بحث، مشورې او د نظر تبادلې ته رابلل شوي دي، دهغوی د رهبرۍ ډیروغړو داسې نظر ښودلې چې تر هغو پورې چې د حزب جمعي فیصله نه وي، د دې ګوند غړي په انفرادي توګه په داسې مجلسونو کې ګډون نه شي کولای، او په دې اړوند تر اوسه پورې د سولې غورځنګ ګوند کومه پریکړه نه ده کړې. د سولې غورځنګ معاون او د رهبرۍ ځینو کادرونو بیا مستقیما په غونډه کې ګډون رد کړ.

## ۴ – په اروپا کې د افغانانو د تفاهم له نهضت سره زموږ ارتباط:

د وطنپالو، ملي او دموکراتيکو جوړښتونو سره د اړيکو او متقابل تماس په بهير کې موږ «په اروپا کې د افغانانو د تفاهم نهضت» سره هم تماسونه نيولي او له هغوی سره مو د افغانستان د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د يووالي د اړتيا په اړه خبرې کړې دي. په اروپا کې د افغانانو د تفاهم د نهضت د اړيکو کميسيون ته مو د حمل د پراخې سلاکارې غونډې مواد وراستولي او د وحدت د پروسې د پرمختګ او ستونځو په اړه مو معلومات ورکړي دي. په نتيجه کې په اروپاکې د افغانانو د تفاهم نهضت د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت په لاره کې له موږ څخه بشپړ حمايت او بې دريغه ملاتړ اعلان کړی دی. د حمل د مياشتې د سلاکاره غونډې په بهير کې هم د تفاهم د نهضت ځينو ملګرو د تلفون له لارې غونډې ته خپل نظرونه، مبارکي او نيکې هيلې څرګندې کړې. په اروپا کې ملګرو د حمل د مياشتې د غونډې په مصرف کې برخه واخيسته او وروسته بيا د اروپا د تفاهم نهضت د عمومي غونډې له خوا د حمل د مياشتې د پراخه سلاکارې غونډې د ګډون کوونکو د فعاليت او د غونډې د پريکړو څخه خپل ملاتړ په ليکلي ډول څرګند کړ.

په اروپا کې زموږ ملګرو د موږ د نني غونډې د جوړولو له پاره هم مالي مرسته کړې ده او هم يې يو ليکلی پيغام را استولی، چې تاسې ته به وروسته ولوستل شي.

## ۵ – له ځينې نورو سازمانونه سره ليدني کتني:

د وطنپالو، عدالت غوښتونکو او دموکراتيکو سازمانونو او جوړښتونو سره د تماس په لړ کې زموږ اړيکې له «نهضت آينده» سره هم رامنځته شوي دي. د آينده نهضت استازی چې څه موده مخکې کابل ته راغلی ؤ، زموږ له ملګرو سره يې تماس نيولی او ورسره په تفصيل د وطنپالو، ملي، عدالت غوښتونکو او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت او يووالي پر سر خبرې اترې شوي دي. د آينده نهضت هم د تيت او پرک وطنپالو او عدالت غوښتونکو ځواکونو د اتفاق او د هغوی د عمل د يووالي پروسې ته ليواله، زموږ هڅې او هاند يې د تائيد وړ ګرځيدلی او د دوه اړخيزې همکارۍ له پاره يې خپل چمتو والی ښکاره کړی دی.

په همدې توګه د افغانستان د خلک انقلابي ګوند، د نوی تړون پلويانو، د تفاهم له مرکز، د وطن د ترقی ګوند، د افغانستان د کار سازمان، د افغانستان د واحد سراسری ګوند، افغانستان نوين او ځيني نورو، شوراګانو، اتحاديو حلقو او سازمانونو سره هم تماسونه نيول شوي او په راتلونکي کې به دا تماسونه چټک او له نورو سره هم پراخه شي.

### *ج: په افقي سطحه کې د افغانستان د وطنپال، ملي او دموکراتيک نهضت له فعالينو او مينه والو سره اړيکي او توضيحي اقناعي کار:-*

لکه څنګه چې موږ او تاسې ټولو ته معلومه ده د هيواد پالو ملي او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت او يووالي په لارکې خورا لويې ستونځې پرتې دي. د افغانستان د ملي او دموکراتيکو ځواکونو يووالي بې له شکه د افغانستان د ټولو اوسيدونکو افرادو او ټولو ميشتو قومونو او د زړه سواندو وطنپالو افغاني سياسي- ټولنيزوګروپونو په ګټه دی. خو همدا يووالي بيا د وطن د دښمنانو، په شخصي او ګروپي ګټو مينو زورمندانو او د خارجي مغرضو ځواکونو د ګټو سره په تضاد کې واقع کيږي. څرنګه چې په شخصي او ګروپي ګټو ميني داخلي او بد نيت لرونکي خارجي کړی او سازمانونه د پريمانه تشکيلاتی، مالي، پولي ، پوځي ، تخنيکي او بشري امکاناتو لرونکي دي، بې له شکه دوی به خپل ټول امکانات د وطنپالو او متعهدو ديندارو افغانانو د وحدت په ضد وکاروی. دا په داسې حال کې چې وطنپاله، عدالت غوښتونکي، ملي او دموکراتيک ځواکونه خواره واره، د پيسو او مالي شتمنيو په قلت ګرفتار، او د معلوماتي او ارتباطي تخنيک او سازماني امکاناتو له ټيټې کچې برخمن دي. داسې چې د وطن او ملت د سترو پرابلمونو د حل له پاره د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د يووالي ضرورت د هيواد په اوسنيو حالاتو کې يو تاريخي حکم دی، خو بيا هم د هغو په عملي کولو کې خنډونه خورا زيات دي.

ددې له پاره چې له دې نسبتا کمو موجودو چانسونو څخه پوره او اغيزمنه ګټه پورته کړل شي، دې ته اړتيا ده چې د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت برخليک د څو محدودو کسانو او د سياسي ټولنيزو سازمانونو د رهبرانو په لاس کې منحصر او محدود پاته نه شي، ددې ستر وطني کار له پاره د هيواد د سياسي- ټولنيزو شخصيتونو او تجربه کاره فعالينو لوی او عام خوځښت په واحد لوری کې په کار ولويږي. دې هدف ته د رسيدو له پاره موږ يوازې د موجودو سياسي، ټولنيزو ګروپونو له رهبري ارګانونو سره په تماس او يوازې د معينو کړيو د رهبرانو د نظر په اخيستلو اکتفا ونه کړه، بلکې د هيواد د ملي او دموکراتيک جنبش د منفردو سابقه لرونکو، ملي شخصيتونو او د ګوندونو، سازمانونو او جوړښتونو له عادي غړو او فعالو کادرونو سره مو هم د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې تماسونه ونيول. موږ کوښښ وکړ چې د وحدت او تفاهم په دې عامه ملي او تاريخي ضروري پروسه کې د ډيرو آزاد نظر او مستقل تصميم نيولو واک لرونکو شخصيتونو او د وطن په درد دردمنو روشنفکرانو سره خپل فکر شريک کړو. د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت په پيچلې پروسه کې د هغوی مرستې را جلب او ورسره د يوځای تصميم نيولو او ګډ کارکولو شرايط را منځته کړو. په دې ډول هغه ستر او د حساب وړ وطنپال او دموکراتيک قوت چې د موجودو سازمانونو څخه بهر په

ننني خوځښت کې فعاله ونډه لري په ټولنيزه سياسي مبارزه کې راګډ او فعال شي. له بلې خوا د مختلفو سازمانونو په غړو کې پرځان د باور روحيه غښتلې شي. د رهبرانو په وړاندې د تعبُد روحيه ، چې د دموکراسۍ ضد عنعنه ده، ماته شي. او په ټولنيزو سياسي چارو کې خپل انفرادي مسئوليت ښه درک او وپيژني، تر څو چې د هيواد د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د يووالي او تفاهم په پروسه کې د مستقل انفرادي تصميم او ګډون توان په ځان کې ومومي او دا ستره ملي پروسه د ګوندونو او سازمانونو د څو تنو له انحصاره را ووزي. د همدې موخې د تر سره کولو له پاره د ولايتي او محلي شوراګانو جوړولو ته پام ور ګرځول شوی دی.

د حمل د مياشتې د پراخه سلاکارۍ غونډې له خوا مؤظف کاري ټيم ددې هدف له پاره د غونډې پريکړې او اسناد د خپل امکان تر پوله تکثير کړي، خپاره کړي او انفرادي او ډله ايز تماسونه يې نيولي دي.

## د: د وحدت د پيل شوې پروسې په اړه پوښتنې او تشويشونه:-

بربنډه خبره ده چې هر سياسي- ټولنيز خوځښت د خپل پيداينښت او ودې په بهير کې د مينه والو او پلويانو تر څنګ مخالفين هم لري. هرټولنيز – سياسي حرکت له ځانه سره د ځينو هغو کسانو په وړاندې هم پوښتنې را پيدا کوي، چې اساسا د هغوی د ګټو دساتلو او د دوی د زړونو د ارمانونو د ترسره کولو له پاره رامنځ ته شوی وی. د هيواد د ملي او دموکراتيکو ځواکونو ديووالي له پاره اوسنۍ روان خوځښت هم له دې قاعدې څخه مثتثنی نه دی.

د افغا نی ټولنې د اوسني تکاملي پړاو د غوره ستونځو په لړ کې يوه هم د د دوه اړخيزه او څو اړخيزه باور نشتوالی دی. د متقابل باور او اعتماد نشتوالی په افغانی وطنپالو سياستوالو او ټولنيزو فعالينو کې هم خپل سيورئ خپور کړی دی. دا بې باوری د ځينو افغانی سياستوالو تر منځ له دې کبله هم زياته شوې ده، چې ډير ځله د ځينو سياسي تجارتي معاملو او کله کله هم د محدودو ګروپی ګټو او شخصی نظرونو د خپريدو او حمايت په لار کې د ښو او په زړه پورې شعارونو څخه ګټه اخيستل شوی اويوه او يا بل شخص او ګروپ جلب او جذب شروع کړی دی. ځينې د ښه نيت او ښه زړه ښتنان او د فعالې کلکتيفی مبارزې طرفداران په همداسې ډلو کې ور ننوتلی، خو څه موده وروسته د هغو په تجارتی او ياهم محدود ګروپی ماهيت او د رهبرانو له خوا د شخصی امتياز او ګټو په تر لاسه کولو پوه شوی او پخپل کړی عمل پښيمانه شوی دی. نو هغه مشهور متل دی چې «شيدو سوی مستې پوه کوی». داسې کسان چې مخکې يې له وطنپاله احساساتو، اعتماد او ښه نيت څخه ناوړه ګټه پورته شوی، اوس د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت روان بهير ته هم د تردد او شک په سترګه ګوری.

طبيعی خبره ده چې د ملي او دموکراتيکو ځواکونو د وحدت دښمنان هم د داسې فضا د رامنځته کولو او د داسې ناوړه سيوری د خپرولو له پاره عمدا کار کوی ، چې د ملي او دموکراتيکو وطنپالو ځواکونو ترمنځ د وحدت له پاره د اعتماد فضا ګردجنه کړی.

يو له هغو غوره سوالونو او تشويشونو څخه دادی چې آيا دا روان بهير به د کوم بل واړه ګروپ او نوی کوچنی بې اغيزی ګوندپه جوړولو پای ته ونه رسيږي؟

دې ډول تشويش لرونکو وطنپالو شخصيتونو او سازمانونو ته ډاډ ورکوو چې زموږ موخه د محدودو شخصی او يا ګروپي ګټو د ساتلو له پاره د کوم نوی کوچنی ګوند جوړول او د افغانستان په سياسی کړيو کې د يوې نويې حلقې ورزياتول نه دی. بر عکس، موږ غواړو چې په هيواد کې موجود غير لازمی او بې ګټې پراخ سياسی انقطاب پای ته ورسوو، کوم چې په هيواد کې د عينی زيربنايي شرايطو پر اساس نه، بلکې د شخصی احساساتو او محدودو ګروپی سليقو پراساس منځ ته راغلی دی.

موږ غواړو چې د ګډو ملي او ټولنيزو ارزښتونو د ساتلو او دفاع له پاره د ګڼ شميرملي او دموکراتيکو شخصيتونو، جوړښتونو او سازمانونو د يووالی او د هغو د پراخه برخې اخيستنې له لارې يو غښتلی، اغيزمن افغانستان شموله سياسی ګوند د افغانی، مدنی او دموکراتيکو اصولو پر بنسټ جوړ کړو. دې هدف ته د رسيدو په خاطر مو د مختلفو شخصيتونو، سازمانونو، حلقو او ګوندونو د غړو او فعالينو ترمنځ د تماسونو د پراخيدو، د متقابل درک او باور د پخيدو او د واحد او ګډ نظر د رامنځته کيدو د امکاناتو د برابريدو په موخه د وحدت له پاره د تفاهم د شورا ګانو د جوړولو لاره غوره کړې ده.

د تفاهم د شورا ګانو جوړول او د هغوی ترمنځ د ژونديو اړيکو ټينګول د هيڅ نوی ګوند د جوړولو معنا نه لري. ددې شوراګانو اصلي او اساسی دنده د ګډون کوونکو ترمنځ د نظر ونو تبادله، د دوه اړخيزه او څو اړخيزه پيژندګلوی او يو پربل باندې د باور د پخيدو، د ګډو هدفونو د پرنښه کېدو او بلآخره د راتلونکی واحد او قوی ګوند دجوړيدو له پاره د مشترکومرامی او تشکيلاتی اصولو موندل او پيژندل دی. د تفاهم په مرحله او د تفاهم په شوراګانو کې داسې اساسنامو ی نارمونه او د سازمانی او اداری مخروطی جوړښت چلندونه نشته، چې ځينې د صفوفو پر نامه د ځينو نورو رهبرانو تابعيت ته مجبور کړی. د وحدت له پاره د تفاهم په شوراګانو کې ټول کسان د متساوی الحقوقه افرادو په حيث ګډون کوی او کولای شي. د تفاهم په مرحله کې د هيواد او نړۍ په کچه د اوږدی مودی ستراتيژيک هدفونه لا نه دی

تاکل شوی، یعني دا چې کوم ګوندي مرام وجود نه لری. د وحدت په خاطر د تفاهم په مرحله کې به اساسی موخه د هېواد په کچه د غښتلی، واحد، سراسری او غیزمن ګوند د جوړولو له پاره دعینی شرایطو مطابق د ذهنی شرایطو برابرول وی.

موږ د وحدت له پاره د تفاهم په شورا ګانو کې د یوه واحد نظر د رامنځته کولو او د شریکو موخو د موندلو له پاره په داسې میتود کارکوو، چې د هیواد دملی او دموکراتیک جنبش د مینه والو ترمنځ د تشنج مخه ونیسی. موږ د تفاهم په شوراګانو کې یو د بل نظرونه اورو او یو د بل خبروته غوږ ږدو. د تفاهم په مرحله کې د مختلفو افکارو موجودیت او زغم خورا ضرور دی، ځکه چې دتفاهم د شوراګانو غړی د مختلفو سیاسی، ټولنیزو محیطونو تر اغیزې لاندې راغلی او د ملی او دموکراتیکو ځواکونو د وحدت او همدراز د راتلونکی سراسری اغیزمن او غښتلی ګوند د مرامی اهدافو او تشکیلاتی اصولو په اړوند به متفاوت نظرونه لری. د همدې بیلو بیلو نظرونو د روښانه کېدو، دهغو د نږدې کیدو او د اغیزمن او غښتلی سراسری ګوند د جوړیدو په منظور دافکارو د ورته والی او توحید په خاطر د ګوند د جوړیدو ترمخه د تفاهم مرحلې ته اړتیا ده. دواحد ګوند د نامه، مرامی اهدافو او تشکیلاتی نارمونو په اړه به د تفاهم د ټولو مینه والو په فعال ګډون او د غوڅ اکثریت په خوښه په ګډه او یو له بله سره په سلا او مشوره کې د دموکراتیکو اصولو له په نظر کې نیولو سره سم ګام پورته کیږي.

بل هغه سوال چې له ډیرو سره پیدا شوی او د موجودو ګوندونو او د وحدت د روانې پروسې د فعالینو ترمنځ د ناوړه تفاهم سبب ګرځی، هغه دادی چې ځینې ګوندونه او هم د وحدت د اوسنی روانې پروسې ځینې پلویان هم داسې فکر کوی، چې دا حرکت د موجودو سازمانونو او ګوندونو ړنګیدل په داسې وخت کې غواړی چې هیڅ بل بهتره او لوړ بدیل هم نه شی وړاندې کولای.

دا باید په زغرده وویل شی چې زموږ حرکت کوم تخریبی حرکت نه دی. د نورو ګوندونو او جوړښتونو د ورانولو دنده مو پخپل مخکې نه ده ټاکلې، بلکې موږ د وطن د ملی ګټو د ساتلو په خاطر د ملی، وطنپالو او دموکراتو شخصیتونو، سازمانونو او ګوندونو صادقانه وحدت او یووالی غواړو. د داسې وطنی تفاهم او وحدت طرفداران که په سازمانونو او ګوندونو کې غړیتوب ولری او که نه، کولای شی چې د وحدت له پاره د تفاهم په شوراګانو کې د مستقلو او متساوی الحقوقو افرادو په حیث ګډون وکړی. د هیڅ ملی او دموکراتیک ګوند غړیتوب د تفاهم په شوراګانو کې د ګډون مانع نه ګرځی. همدا ډول په یوه او یا بل داسې ګوند کې غړیتوب چې معاصر دموکراتیک تشکیلاتی اصول ولری، دولس او وطن په وړاندې د فردی مسئولیت د اجرا په خاطر د تفاهم په شوراګانو کې اساساد ګډون موانع نه شی رامنځته کولای. یوازې د موده لویدلو، تنګو، توتالیتر او اوتوریتار تشکیلاتی اصولو لرونکی ګوندونه او سازمانونه د خپلو غړو څخه فردی آزادی اود مستقل تصمیم د نیولو حق اخلی. د رهبری له اجازې پرته ورته په غونډو او مجلسونو کې د ګډون ممانعت کوی. په دې توګه په حقیقت کې د ګوند غړی د ګوند د پریکړو په نیولو کې د مساوی حقوقو څخه برخمن نه وی، د رهبری تر قومانده لاندې وی او دا ډول تشکیلاتی نارمونه د ګوند د غړو د فردی آزادی حقوقو ته زیان رسوی. لنډه دا چې د هر مدرن او دموکرات ګوند غړی د ګوند د غړیتوب د ساتلو سره، سره ددې حق لری چې مستقل فکر وکړی، په سیاسی او ټولنیزو فعالیتونو کې آزاد تصمیم ونیسی او د ټولنې اونهضت په وړاندې د فردی مسئولیت د ادا په خاطر د وحدت له پاره د تفاهم د شوراګانو په فعالیت کې فعاله ونډه واخلی. څرنګه چې د وحدت له پاره د تفاهم اوسنی خوځښت ګوندي مرام او ترل شوی ګوندی تشکیلاتی نارمونه نه لری، بلکې یوازې د وحدت په خاطرد ټولو ملی او دموکراتیکو ځواکونو له پاره بلندویه خصلت لری، نو کولای شی چې د مختلفو ملی او دموکراتیکو جوړښتونو او سازمانونو غړی د نظرونو د تبادلې، یو دبل دپیژندګلوی، د مشترکو اهدافو دتشخیص او د ګډ سیاسی- ټولنیز کار د پرمخ بوولو له پاره د لازمو او د ټولو د منلو وړ سازمانی اصولو د موندلو په خاطر سره شریکې ناستې ولاړې ولری.

## ***مخ په وړاندې د وطنپالو، ملی او دموکراتیکو ځواکونو د یووالی په لور!***

***۱۸ جدی ۱۳۸۸***
***کابل - افغانستان***

---

۱ - د ۱۳۸۸ کال د حمل د میاشتې د دوهمې پراخې مشورتی غونډې له خوا «د ټولو ملی او دموکراتیکو ځواکونو د یووالی او د هیواد پر سیاسی بهیر د اغیزمن لوی ګوند د رامنځته کیدو لپاره بلنلیک»